ISSUE 83 JUNE 2024

# خانه نو نوی کور
# New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It's reported and written by Hussain Ali Haidari.



Photo Credit: Mehrab Ibrahimi/Associated Press

## په افغانستان کې وروستي سیلابونه؛ په لسګونو زره ماشومان د دوامداره ګواښونو سره مخ دي

- د دغو سیلابونو له امله ۷ زره ۸۰۰ کورونه ویجاړ شوي دي
- له بدخشان، بغلان او غور ولایتونو څخه څه باندې پنځه زره کورنۍ بې ځایه شوې دي
- بشردوستانه سازمانونه باید په راتلونکي کې د طبیعي پیښو لپاره ځانونه چمتو کړي

Illustrator Credit: CVT

## په افغانستان کې وروستي سیلابونه؛ په لسګونو زره ماشومان د دوامداره ګواښونو سره مخ دي

یونیسف یا د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق په خپل تازه راپور کې ویلي، چې په افغانستان کې د وروستیو سیلابونو له امله لسګونه زره ماشومان له بېړني او دایمي ګواښ سره مخ دي. د یونیسف په دغه راپور کې، چې د دوشنبې په ورځ (جون ۳مه) خپور شو، ویل شوي چې دغه ماشومان په ځانګړي ډول د افغانستان په شمالي ولایتونو (بغلان او بدخشان) او د افغانستان په لوېدیځ کې د غور په ولایت کې اغېزمن شوي دي. یونیسف په خپل راپور کې ویلي چې نړیواله ټولنه باید په افغانستان کې پر ماشومانو د اقلیم د بدلون د اغیزو د کمولو او تطبیق لپاره له مرسته کوونکو ټولنو سره د مرستې لپاره خپلې هڅې او پانګونې زیاتې کړي. همدارنګه یونیسف او بشردوستانه سازمانونه باید په راتلونکي کې د طبیعي پېښو لپاره ځانونه چمتو کړي. په دې راپور کې په افغانستان کې د دغې ادارې د استازي تاجالدین اوویوله له قوله راغلي چې د اقلیمي بدلون سختې پېښې یونیسف او نور بشري فعالان دي ته اړ باسي چې په چټکۍ سره بشري غبرګون وښيي. د هغه په وینا، سېلابونو ډېرې کورنۍ زیانمنې کړې او ماشومان یې د پخوا په پرتله خیریه مرستو ته اړ شوي دي.

**ادامه ...**

هغه زیاته کړه، له دې وضعیت سره مبارزه د قوي چمتووالي او د شریکانو په همکارۍ ممکنه ده. د یونیسف په وینا، په افغانستان کې د اقلیم د بدلون وروستی ناوړه وضعیت د اقلیم د کړکیچ ټولې نښې دي چې په چټکۍ سره مخ په ډېریدو دی چې په پایله کې یې خلکو خپل ژوند او اسانتیاوې له لاسه ورکړي او اړیني زیربناوې یې سخت زیانمنې شوې دي. بل خوا یو شمېر سېلاب ځپلي خلک وایي، چې دوی او ماشومان یې له سختو ستونزو سره مخ دي او د ژوند لومړنیو اسانتیاوو ته لاسرسی نه لري.د یونیسف له خوا د خپرو شویو شمېرو له مخې، په بغلان، بدخشان او غور ولایتونو کې په وروستیو سیلابونو کې د ماشومانو په ګډون ۳۵۰ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی او ۷۸۰۰ کورونه هم ویجاړ شوي او په دغو ولایتونو کې تر ۵ زره ډېرې کورنۍ بې ځایه شوې دي. په دغه راپور کې ویل شوي، چې افغانستان په ۲۰۲۱ کال کې د یونیسف د اقلیمي ګواښ په شاخص کې د ۱۶۳ هېوادونو په منځ کې ۱۵م ځای لري، چې نه یوازې د اقلیم او چاپېریال له بدلونونو سره مخ دي، بلکې په دغه هېواد کې ماشومان د نورو هېوادونو په پرتله د اقلیم له بدلون څخه ډېر اغېزمن شوي دي.د ماشومانو د ژغورنې صندوق (سیف دَ چلدرین) هم د مې په ۲۷مه په یوه راپور کې ویلي، چې سږ کال په ټول افغانستان کې شاوخوا ۶،۵ میلیونه ماشومان، یعنې په هرو لسو افغان ماشومانو کې درې یې له لوږې سره مخ دي.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**